# د جلال آباد ښار د ګذر له وکیلانو او د غیر رسمي سیمو د اوسیدونکو سره مشورتي غونډې ګزارش

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت چارواکو د جلال‌اباد ښار د غیر رسمي ښاري سیمو اوسېدونکو ته د ملکیتونو د سندونو وېش او د خوندیتوب په اړه ډاډ روکړ.

د جلال‌اباد ښاریان د ملکیت سندونو د وېش لړۍ څخه خوښ بریښي او د ښار جوړولو او ځمکو وزارت له مسوولینو مننه کوي چې د جلال اباد ښار د غیر رسمي ښاري سیمو اوسېدونکو ته یې د ملکیت سندونه ویشلي دي.

دوی وایي؛ د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په دې اقدام سره یې ملکیتونه خوندي شوي اوس‌مهال په ارامۍ او سکون سره په خپلو مېنو کې ژوند کوي.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت سرپرست وزیر محترم محمد جواد پیکار په ګډون د دې وزارت ګڼ شمېر مسوولینو په ننګرهار ولایت کې د هغو سیمو له اوسېدونکو سره ولیدل چې په غیر رسمي سیمو کې یې مېنې ابادې کړې وې، خو د ژوند له لومړنیو اسانتیاو بې برخې وو.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت سرپرست د جلال اباد ښار اوسېدونکو ته ډاډ ورکړ چې تر دې وروسته به هم د غیر رسمي ښاري سیمو اوسېدونکو ته د ملکیت سندونو د وېش لړۍ دوام وکړي او د ټولو اوسېدونکو مېنې به خوندي شي.

د جلال اباد ښار یو اوسېدونکی بلال احمد چې د ملکیت سند یې ترلاسه کړی وایي:

(( مونږ له دې مخکې ډیر وارخطا وو چې دولت یا نور شخصي خلک به راځي او زمونږ کورونه به ورانوي، خو اوس چې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت مونږ ته د ملکیت سندونه راکړل، ایله مو زړه په ارام شو او له دې وروسته به مونږ سره دا اندېښنه نه وي. ))

د جلال اباد ښار یو بل اوسېدونکی نعمت الله وايي:

(( مونږ تر اوسه د ژوند له لومړنیو اسانتیاو څخه محروم یوو، په خپل کور کې هم راته ځان پردی ښکارېدو، خو اوس چې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت مونږ ته د کورونو سندونه راکوي، دا به مو ژوند ته یو نوی رنګ ورکړي. ))

ښار جوړولو او ځمکو وزارت په پام کې لري چې د ۲۰۲۰ میلادي کال تر پایه د کابل، مزار شریف، هرات، کندهار، جلال‌اباد، فراه، بامیان او نیلي ښارونو غیر رسمي سیمو کې جوړو شویو ۵۰۰ زره کورونو ته د ملکیت سندونه وویشي.